# د الله تعالى په شتون باندې دليل
# او د بندګانو د پيداکولو حکمت

**لغة البشتو**



الدليل على وجود الله
وحكمة خلق العباد

# د الله تعالی په شتون باندې دلیل او د بندګانو د پیداکولو حکمت

پ

او د بندګانو د پیدا کولو کي يې حکمت څه دی؟

د الله تعالی د شتون دلیل خو د هغه چا لپاره ډېر روښانه دی څوک چې فکر کوي، ډیرې څیړنې او اوږد فکر ته اړتیا نشته.

د الله تعالی د شتون دلایل په درې ډوله دي:

١- فطرتي دلایل.

٢- حسي دلایل .

٣- شرعي دلایل .

❖ اما فطرتي دلایل:

هر سړی په خپله ددې خبرې احساس کوي چې د هغه یو رب او خالق شته، او هغه ته د اړتیا احساس کوي.

او که په لوی مصیبت کې راګېر شي لاسونه او سترګې يې اسمان ته ورګرځي، او له خپل رب څخه د خلاصون او مرستې غوښتنه کوي.

الله تعالی فرمايي:﴿فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ﴾ [الروم: ٣٠]، (نو خپل مخ دې دین ته برابر کړه، د الله تعالی فطري دين هغه دی چې خلک يې پرې پيدا کړي).

❖ اما حسي دلایل:

هغه په کایناتو کي د پیښو او بدلون دلایل دي:

هغه داسې چې نړۍ کې زموږ شاوخوا خامخا حوادث او پیښې رامنځته کیږي، چې لومړۍ حادثه پکې د شیانو پیدا کېدل دي، ټول دا شیان لکه ونې، ډبرې تېږکې، خلک، ځمکه، آسمان، سمندرونه او سیندونه، که وویل شي دا پیښې او حوادث ډیر دي.

❖ دا چا پیدا کړي، او څوک یې تر شا ولاړ دی، او دبېته هغه څه چا ورکړي چې ددې اصلاح پرې کیږي او ددې شیانو بقاء خوندي کوي؟.

ځواب یې دا دی: یا خو دا ټول شیان په تصادفي توګه پرته له کوم مسببه پیدا شوي چې په دې وخت کې هیڅوک نه پوهیږي چې دا شیان څنګه رامنځته شو.

او یا به دې شیانو پخپله ځانونه پیدا کړي وي او د ځان اصلاح او ساتنه به کوي.

او یا به ددې شیانو لپاره یو وجود ته راوستونکی وي او پیداکوونکی او مربي وي چې دا شیان یې پیدا کړي.

کله چې موږ دغه درې واړه احتمالاتو ته وګورو، موږ ته لومړی او دویم احتمال ناممکنه ښکاري.

کله چې لومړی او دوهم احتمال ناممکن شو، دریم احتمال خامخا صحې او روښانه شو. هغه دا چې دا ټول مخلوقات یو

خالق لري چې دا يې رامينځته کړی، کوم چې الله جل جلاله دی.
او هغه دالله پاک ذات دی چې هر څه ته يې هغه څه ورکړل چې د هغې اصلاح پرې کيږي، او د هغې بقاء خوندي کوي، دا بعينه د الله تعالی هغه وينا ده چې فرمايلي: قَالَ تَعَالَىٰ: ﴿أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾﴾ [الطور: ٣٥ – ٣٦]، ( ايا دوی پرته له کوم څيز نه پيدا شوي، او يا دوی پخپله پيدا کوونکي دي د خپل ځانونو او که دوی اسمانونه او ځمکه پيدا کړې، بلکې دوی يقين نه لري)

❖ اما شرعي دلايل يې:
هغه د شريعتونو شتون دی، شيخ ابن عثيمين رحمه الله فرمايي:
" ټول شرايع د خالق په شتون او د هغه په کامل علم او حکمت او مهرباني دلالت کوي".
ځکه ددې شريعتونو لپاره خامخا يو شريعت جوړونکي درلودل ضروري دي.، او شريعت جوړونکی الله تعالی دی.

❖ خا مونږ ولې الله تعالی پيدا کړي يو؟

ځواب دا دی: چې مونږ الله تعالی د خپل بندګۍ او شکر او ذکر لپاره پیدا کړي یو، او هغه څه وکړو چې الله تعالی موږ ته پرې امر کړی، دا ټول وروسته ددېنه چې سمه لار یې ورته روښانه کړه.

الله تعالی فرمایی: ﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ٥٦﴾ [الذاريات: ٥٦]، او ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر دخپل عبادت لپاره.